# آيا تاسو ته الله تعالی هغه څه نه دي درکړي چې تاسو يې صدقه کړئ؟ هره تسبيح صدقه ده، هر تکبير ويل صدقه ده، هر الحمد لله ويل صدقه ده او تاسو ته په کوروالي کې صدقه ده

له ابو ذر رضي الله عنه څخه روايت دی چې: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابه کرامو څخه ځينو خلکو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وويل: اې د الله رسوله! اجرونه خو ټول مالدارانو واخېستل؛ هغوی لکه زمونږ په څېر لمونځونه کوي، زمونږ په څېر روژې نيسي، او خپل اضافي مالونه خيراتوي، هغه وويل: «آيا تاسو ته الله تعالی هغه څه نه دي درکړي چې تاسو يې صدقه کړئ؟ هره تسبيح صدقه ده، هر تکبير ويل صدقه ده، هر الحمد لله ويل صدقه ده او تاسو ته په کوروالي کې صدقه ده»، هغوی وويل: اې د الله رسوله! زمونږ څخه به يو کس خپل شهوت پوره کوي او هغه ته به پرې اجر وي؟ هغه وويل: «راته ووايئ که چېرته يې په حرامو کې پوره کړي و نو آيا ګناهکار شوی به و؟ نو همداسې ده، کله چې خپل شهوت د حلال لارې پوره کړي نو اجر ورته شته».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

د صحابه کرامو ځينو فقيرانو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته د خپل حال او غربت په اړه شکايت وکړ، او دا چې نه شي کولی د الله په لار کې مالونه صدقه کړي تر څو د خپلو نورو مالدارو ورونو په څېر اجرونه تر لاسه کړي او د هغوی په څېر د خېر کارونه وکړي؛ ځکه هغوی هم لکه زمونږ په څېر لمونځونه کوي، او زمونږ په څېر روژې نيسي، او خپل اضافي مالونه خيراتوي او موږ يې نه خيراتوو! نو رسول الله صلی الله علیه وسلم يې داسې صدقاتو ته لارښوونه وکړه چې دوی يې کولی شي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل: آيا الله تعالی تاسو ته داسې څه نه دي درکړي چې تاسو يې د ځان لخوا صدقه کړئ؟! يقينا چې ستاسو (سبحان الله) ويل تاسو ته د صدقې اجر لري، او همداسې (الله اکبر) ويل صدقه ده، (الحمد لله) ويل صدقه ده، (لا اله الا الله) ويل صدقه ده، (امر بالمعروف) صدقه ده او (نهی عن المنکر) صدقه ده، بلکې کله چې ستاسو څخه يو څوک د خپلې ښځې سره کوروالی کوي، دا د هغه لپاره صدقه ده. نو دوی حيران شول او وې ويل: اې د الله رسوله! آيا زموږ څخه به يو تن خپل شهوت پوره کوي او هغه ته پرې اجر وي؟ هغه وفرمايل: ماته ووايئ که چېرته يې د حرامې لارې خپل شهوت پوره کړی و، يعنې زنا او يا بل داسې کار يې کړی و، نو آيا پرې به ګناهکار شوی و؟ نو همدا خبر ده چې کله يې د حلالې لارې پوره کړي ورته اجر دی.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC
E-Da'wah Committee